# {ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ}

له زبير بن العوام څخه روايت دی وايي: کله چې دا آيت نازل شو {ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ} [التكاثر: 8] ،بيا به په دغې ورځ کې له تاسو نه خامخا ضرور د نعمتونو په باره کې پوښتنه کېږي ، نو زبير وويل: اې د الله رسوله: هغه کوم نعمتونه دي چې زمونږ څخه به يې پوښتنه کيږي، پداسې حال کې چې يوازې دوه تور خواږه «لرو چې يو يې خرما او بل يې اوبه دي؟ هغه وفرمايل: «خبردار اوسئ چې له همدې څخه به کيږي.

[حسن] [الترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی]

کله چې دا آيت نازل شو: {ثم لتسألن يومئذ عن النعيم} {بيا په هغه ورځ به له تاسو څخه د نعمتونو په اړه پوښتنه وشي} هغه دا چې: له تاسو څخه به د هغه نعمتونو د شکر په اړه پوښتنه وشي چې الله تعالى تاسو ته درکړي دي، زبير بن العوام رضی الله عنه وويل: اې د الله رسوله! هغه کوم نعمتونه دي چې په اړه به يې زمونږ څخه پوښتنه کيږي؟! يقينا چې دا خو دوه نعمتونه دي د دې وړ ندي چې په اړه يې پوښتنه وشي؟! چې هغه خرما او اوبه دي. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: له تاسو څخه به په همدې حالت کې د نعمتونو په اړه پوښتنه وشي چې تاسو په کې ياست، ځکه چې دا د الله تعالى له نعمتونو څخه دوه لوی نعمتونه دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65075

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee